د افغانستان اسلامي امارت

د ازموینو ملي اداره

**د دلیبزو ازموینو کمېټې د قرنطین کړنلاره**

کال: ۱۴۰۲ هـ ش/۱۴۴۵هـ ق

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين.

# لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه

<u>د وضع منظور</u>

**لومړی ماده:**

دا کړنلاره د ولسي جرګې د ازموینو کمېټې د استادانو، تخنیکي او اداري کارکوونکواو تخنیکي وسایلو د قرنطین کېدو د شرایطو او اصولو لپاره وضعه شوې ده.

<u>موخې</u>

**دویمه ماده:**

دا کړنلاره د لاندې موخو لورنکې ده:

1. د ازموینو لپاره د تیارۍ نیول.
2. په ټاکلي وخت د ازموینې په منظم ډول ترسره کېدل.
3. د ازموینو پروسې شفافیت او روڼوالی.
4. د ازموینو کمېټې د اسرارو ساتنه.

<u>اصطلاحات</u>

**درېیمه ماده:**

دې کړنلاره کې کارول شوې اصطلاحات لاندې مفاهیم افاده کوي:

1. **د ولسي جرګې ازموینو کمېټه:** ولسي جرګې ازموینو کمېټه د کادري، مسلکي، تخنیکي، طباعتي، فني، اداري، خدماتي، روغتیایي او استخباراتي غړو څخه د ازموینو ملي اداري په چوکاټ کې د مؤقت وخت لپاره تشکیلیږي.
2. **قرنطین:** هغه تدابیر دي چې د ازموینو د پروسې محرمیت ساتلو په موخه ټاکلي وخت کې عملي کیږي

<u>تطبیقوونکې مراجع</u>

**څلورمه ماده:**

د ازموینو ملي اداره او زیدخل بنسټونه ددې کړنلارې تطبیقوونکي مراجع دي.

<u>د تطبیق ساحه</u>

**پنځمه ماده:**

دا کړنلاره یوازې د قرنطین په موده کې د تطبیق وړ ده.

## دویم څپرکی

## دندې او مسؤلیتونه

**د قرنطین داېرېدل**

**شپږمه ماده:**

د ښلیزو ازموینو کمېټې قرنطین په لاندې حالاتو کې داېرېږي:

1. د ښلیزو ازموینو د پوښتنو د جوړېدلو پر مهال.
2. د ښلیزو ازموینو لپاره د پوښتنو د کتابچو د چاپ پر مهال.
3. د ښلیزو ازموینو د پایلو د تنظیم او اعلان پر مهال.

**د قرنطین ساحه**

**اوومه ماده:**

د ښلیزو ازموینو کمېټې له دروازې څخه شروع توله داخلي ساحه، د ښلیزو ازموینو د تخنیکي وسایلو، ښلیزو ازموینو د پوښتنو جوړېدلو او چاپ د محل څخه عبارت ده.

**د کمېټې محرمیت**

**اتمه ماده:**

د ښلیزو ازموینو کمېټه محرمه ده، له مسؤلو اشخاصو پرته هیڅوک کمېټې ته د داخلېدو حق نلري.

**د قرنطین شرایط**

**نهمه ماده:**

د ښلیزو ازموینو کمیټې د قرنطین شرایط په لاندې ډول دي:

1- د ښلیزو ازموینې کمېټې غړي د قرنطین تر پای پورې نه شي کولای چې د قرنطین له محل څخه خارج شي.
2- هرکله چې د ازموینو قرنطین د ورځې د کاري ساعتونو په بهیر کې پای ته ونه رسیږي او د کار د دوام ایجاب وکړي، د شپې لخوا د ازموینو د قرنطین له ځای څخه وتل منع دي.
3- ښلیزو ازموینو کمیټې غړي او نور کارکوونکي نه شي کولای چې کمېټې ته مبایل، کمره او نور برېښنایي او غیر برېښنایي وسایل چې د معلوماتو انتقال پرې ممکن دی راوړي.

**<u>د ډلبيزو ازموينو کمېټې علمي او کادري غړي</u>**

**لسمه ماده:**

په دې کړنلاره کې درج علمي او کادري غړي په لاندې ډول دي:

1. د ډلبيزو ازموينو کمېټې لنډ مهاله علمي او کادري غړي
2. د ډلبيزو ازموينو کمېټې اوږد مهاله علمي او کادري غړي

**<u>د ډلبيزو ازموينو کمېټې د لنډ مهاله علمي او کادري غړو دندې</u>**

**يوولسمه ماده:**

د ډلبيزو ازموينو کمېټې لنډ مهاله علمي او کادري غړي د لاندې دندو لرونکي دي:

1. د ډلبيزو ازموينو د پوښتنو جوړول.
2. د ډلبيزو ازموينو پوښتني سيستم ته داخلول.
3. د ډلبيزو ازموينو د پوښتنو تصحيح کول او د تصحيح څخه وروسته د اړوند پوښتنو تائيدول.

**<u>د ډلبيزو ازموينوکمېټې د اوږد مهاله علمي او کادري غړو دندې</u>**

**دولسمه ماده:**

د ډلبيزو ازموينو کمېټې د اوږد مهاله علمي او کادري غړو دندې په لاندې ډول دي:

**1. اوږد مهاله دندې**

د ډلبيزو ازموينو کمېټې اوږد مهاله علمي او کادري غړو دايمي دندې په لاندې ډول دي:

1. د ټاکل شوي تعليمي او تحصيلي نصاب څخه د ډلبيزو ازموينو د پوښتنو جوړول.
2. د پوښتنو تصحيح، چاپ او صندوق کې د ځای پر ځای کولو پر مهال يې د محرميت ساتل.
3. د پوښتنو بانک بيا کتنه او غني کول.
4. د نورو هغو کړنو ترسره کول چې د قرنطين چارې يې ايجابوي.

**2. لنډ مهاله دندې**

د ډلبيزو ازموينو کمېټې اوږد مهاله علمي او کادري غړو لنډ مهاله دندې د قرنطين په موده کې په (۱۱) ماده کې درج علمي او کادري غړو ته د لازمو اسانتياو برابرول دي.

د ډلييزو ازموينو کمېټې د تخنيکي مسؤلينو او غړو دندې

دیارلسمه ماده:

د ډلييزو ازموينو کمېټې تخنيکي مسؤلين او غړي د لاندې دندو لرونکي دي:

1. د کميټې علمي او کادري غړو ته د تخنيکي اسانتياوو رامنځته کول.
2. د کمېټې د تخنيکي او طباعتي چارو ترسره کول.
3. د نورو هغو کړنو ترسره کول چې د کمېټې تخنيکي او طباعتي چارې يې ايجاب وکړي.

## دریم څپرکی

## متفرقه حکمونه

د ذيدخل بنستونو علمي او کادري غړي

څوارلسمه ماده:

په هغه صورت کې چې د ازموينو ملي اداره د نورو بنستونو سره د ازموينو اخيستلو د همکارۍ هوکړه ليکونه ولري ، کمېټې ته د علمي او کادري اشخاصو معرفي کولو برخه کې په اړونده هوکړه ليک عمل کيږي.

تعدیل،الغاء

پنځلسمه ماده:

په دې کړنلاره کې تعديلات راوستل او الغاء د ازمويني ملي اداري د مقام صلاحيت دی.

انفاذ

شپاړسمه ماده:

دا کړنلاره د درې څپرکو او (۱۶) مادو لرونکې ده چې د ازموينو ملي اداري مقام له توشيح سره سم نافذه ده.

پورتنی کړنلاره د ازموينو ملي اداري رهبري شورا کې د ( ۵ ) پروتوکول نمبر په اساس په ( ۱۴۴۰,۵,۱۸ ) نېټه تصويب او د اداري د مقام لخوا په ( ۱۴۴۰,۵, ۲۰ ) نېټه توشيح شوه.